ع. عمر خیل

# زمـــوږ هـــــیلې

په سر به شین آسمان وی تورې وربخې بــــه ورکیږ ی
و طن به مو سمسورشی تور ې شــپې بــــه سبــا کیږ ی

له ســره به شـــی نـــو ی پــر شا تلـــلي تاریـــــخونه
په بــڼ کــې بــه د هــیلو ښــایسته ګــلان غو ړ یږ ی
عظمت او ویاړ دخــــلکو به له سره بیا اوچــــــــت شی
په بـــرم به په جـــها ن کې د افـــغا ن بیر غ رپـــیږ ی

ورا ن شــــو ی دا ښارونه دا بانډ ې او ړنګ کورونـــه
قــصــرونــه بــه آباد شی کنـــــدوالي بـــه بیـــا جوړیږی
ښکلا لرغــــوني برم به دغې خاورې ته ستانه شــــــــی
کمبـــــلـــه دنـــفا ق او ورور وژنـــــــې بـــه تو لـــیږ ي

عالــم او په کار پو هه وطنـــــپا ل به چارې څــــــاری
سمتی ، قو می نـــاوړه معـــیارونـــه بـــه بـــــدلـیږ ی
پالنــــه د وطـــــن، پو هـــــه او میــــــنه به مــــــعیـار و ی
تبعیض ته به ځاي نه وي ټول به یو شان ګڼل کیږ ی

څرګند به د پرو ن او نـــن تر مینځ شـــی تو پـــــیرونه
سوکاله به شی خلک ورځ په ورځ به ژوند ښه کـیږ ی
ملی وحدت به ټینګ شی ورور ولی دخلکو کلکـــــــــه
وطن به مقد س و ی ټو ل به یو له بــــــــل ځاریږ ی

**وطن ته به صادقـــــه او غښتـــــــلي مـــــــشری راشی**

**جا موکې د ملنګو دا پړانګا ن به رټـل کـــــــــیږ ی**

قانـــــو ن بــــه پـــــه ټولـنه کې په بشپړه حاکم و ی
په ټولو به یو شا ن هغه بیرحمه تطبــــــــــیقیږ ی

**آزاد افــــغا نستانه ا ي زمـــوږ ښکــــــــليه وطنه**

په ګډو هلو ځــلو به ستا چـــارې سمبالیږ ی